OMB 0970-0278 [تر 31/08/2022 پورې اعتبار لري

**د ماشومانو او کورنيو چارو اداره**
**د کډوالو د بیا مېشتېدو اداره**

# د ګوتې اثر اخیستلو کړنلاره

## د ګوتې اثر اخیستلو لپاره باید کوم کارونه وکړو؟

1. په دقت سره د معلوماتو خپرولو جواز ولولئ او فورم ډک کړئ.
2. د فکس یا بریښنالیک له لارې ډک کړی د معلوماتو خپرولو جواز او د خپل انځور لرونکي آي.ډي کاپي د کیس مدير ته ولیږئ. که چېرې نشئ کولای خپل اسناد د فکس یا بریښنالیک له لارې ولیږئ، نو هیله ده هرڅومره ژر چې ممکن وي د چټک یا لومړیتوب لرونکي پوست له لارې واستوئ.
3. د معلوماتو خپرولو جواز سپارلو وروسته، د کیس مدير تاسو ته د ګوتې اثر يوه جلسه تنظیموي، یا له سایټ سره د اړیکو نیولو معلومات تاسو سره شریکوي څو د ګوتې اثر اخیستلو وخت ورسره وټاکئ. که چېرې تاسې نشئ کولای چې په ټاکلي وخت کې د ګوتې اثر اخیستلو الکټرونیکي مرکز ته سفر وکړئ، نو د خپل کیس مدير سره د خپلې ګوتې کاغذي اثر کارډ دوه نسخې شریک کړئ.
4. د ګوتې اثر اخیستلو مرکز ته د ګوتې اثر ورکولو لپاره په ټاکل شوي وخت کې، مراجعه وکړئ. پام مو وي چې ORR اداره د ګوتې اثر اخیستلو خدمات د ORR په مرکز کې نه وړاندې کوي. د ګوتې اثر اخیستلو خدمات یواځې په هغه ځای کې ترسره کېږي چې له وړاندې تاسو لپاره ټاکل شوی دی.
5. د ګوتې اثر ورکولو وروسته د خپل کیس له اړوند مدير سره اړیکه ونیسئ او ورته ووایئ، چې له تاسو د ګوتې اثر واخیستل شو. د کیس مدير ممکن ستاسو د تېرو کړنو او فعالیتونو د څېړولو لپاره ځینې نورې لارې چارې هم وګوري.

## ایا د ګوتې اثر ورکولو لپاره باید پیسې ورکړو؟

د ګوتې اثر اخیستلو په ټاکل شوي مرکز کې، هیڅ ډول پیسې نه اخیستل کېږي. که چېرې په ټاکل شوي د ګوتې اثر اخیستو مرکز کې مو د ګوتې اثر نه وي ثبت کړی، نو بیا ممکن له تاسو فیس واخیستل شي.

## څنګه کولای شو د خپلې ګوتې اثر د پخوانیو څېړنو پایله مطالعه کړو؟

د ماشوم کیس مدير ته د غوښتنلیک په استولو سره تاسې کولای شئ د FBI د ګوتې اثر پایله مطالعه کړئ. همداراز د لارښوونې لپاره تاسې کولای شئ د ORR اړیکې ملي مرکز سره په دې شمېرې 7001-203(800) یا information@ORRNCC.com بریښنا لیک له لارې اړیکه ونیسئ.

## که چېرې زما د ګوتې اثر پایله غلطه وي او زه يې ونه منم، ایا زه کولای شم ورسره مخالفت وکړم؟

هو. که چېرې سپانسر، د کورنۍ لوی غړی، یا مشر پالوونکی د روزنې او پالنې د طرحې له مخې په دې باور وي چې د FBI پایلې غلطې دي، نو ممکن د معلوماتو کره والی او غیر کره والی تر پوښتنې لاندې راولي. سپانسر او یا د کورنۍ لوی غړی کولای شي له اژانس سره اړیکه ونیسي چې شته معلومات په غلط ډول وړاندې شوي دي. د FBI د قضیې په پایلو کې د تغیراتو راړول، په هغه کې د اصلاحاتو راوستل او د نورو اضافي معلوماتو ترلاسه کولو اړوند ټول معلومات د امریکا متحده ایالاتونو فدرال مقرارتو کوډ 28 CFR § 16.34 کې هرڅه واضح بیان شوي دي.

په 1995 کال کې د کاغذي کار کمښت قانون (Pub. L. 104-13) د دې عمومي معلوماتو او راپورونو په اړه د هرې پوښتنې ځواب لپاره په تخمیني ډول 1.25 ساعتونه په پام کې نیول شوي دي، چې د کړنلارو ارزول، د اړتیا وړ معلوماتو راټولول او ساتنه او د عمومي معلوماتو څېړل هم پکې شامل دي. يو اژانس ممکن د اطلاعاتو یوه ټولګه هدایت او د هغه ملاتړ ونکړي او یو کس په دې اړ نه دی چې د ټولو معلوماتو په اړه ځواب ووایي مګر دا چې د OMB کنټرول شوې شمېره وړاندې کړي. مهرباني وکړئ د (1) معلوماتو راټولولو لپاره جواز، او دا چې آیا ښکاره کول يې اجباري دي که په خپله خوښه، (2) هغه اصلي موخې چې د معلوماتو څخه د کار اخیستلو لپاره په نظر کې نیول شوي دي، (3) نورې منظم ګټې اخیستنې چې ممکن له معلوماتو څخه وشي، او (4) د غوښتل شويو اطلاعاتو د یوې برخې یا ټولو معلوماتو د نه ورکولو اغیزو په اړه د بحث لپاره د خصوصي حریم ضمیمه خبرتیا/د خصوصي حریم قانون بیان وګورئ. که چېرې د دې معلوماتو په اړه کوم نظر لرئ نو مهرباني وکړئ مور سره اړیکه ونیسئ UCPolicy@acf.hhs.gov.